# د وړومبي دور دَ منتخبو شاعرانو قومي تصور

Abseen Yousafzai*

**ABSTRACT:**

Every writer and poet has his own idea and own thoughts. We know that poets of early stages are so much closed and have some thoughts in providing the poetry of national ideology. In this written paper the writer made an approach to such poets of early stage and also initiated those who had national ideology in their poetry and had some thoughts of it.

د پښتو شاعرۍ د مطالعې نه لوستونکو ته دا خبره په ښکاره ټکو کښې جوتيږي چې لکه پښتو شاعري او قوميت په يو ځائے زيږيدلي دي. دغه خبره نۀ يواځې د جديد دور د شاعرانو د کلامونو نه څرګنديږي بلکې بيخي د ابتدا نه دغه روايت چرته نيغ په نيغه ، چرته په اشارو کنايو کښې، چرته په محسوس او چرته په غير محسوس انداز کښې د پښتو شاعرانو د فکر او فن سره اوږۀ په اوږۀ مزل کړے دے. پړاؤ په پړاؤ که مونږ د پښتو د شعر تنقيدي جاج اخلو نو د قوميت او قام خوښۍ جذبه چې څومره په تيزۍ په وړومبنو کښې ښکاره شوې ده تر خوشحال خان بابا بيا په نظر نۀ راځي. د دې وجه يا خو د اکثر شاعرانو د کلام ضائع کيدل دي او يا د تصوف، پند و نصيحت او ديني خيالونو په دنيا کښې وسيدل دي. البته د روښانيانو د قوميت او مقاميت رنګونه د صوفيانه افکارو باوجود تت نۀ ښکاري.

"کله چې مونږ دَ پښتو شاعرۍ جاج اخلو نو دا لازمي خبره ده چې آغاز به دَ وړومبي شاعر نه کوو. "دَ پټې خزانې" دَ روايت تر مخه دَ پښتو تر ټنه وړومبے معلوم شاعر امير کروړ (۱۳۹تا۱۵۲ھ بمطابق ۷۵۲تا ۷۷۰ء) زوئے دَ امير فولاد

* Chairman Pashto Department, Islamia College University Peshawar

يادېږي. وئيلے شي چې امير فولاد په غور کښې حاکم ؤ. امير کروړ بابا هم دَ غور په منديش حکومت کړے دے[۱].

دَ پټې خزانې مؤلف دَ تاريخ سوري په حواله ليکلي دي چې دَ امير کروړ کورنۍ په پېړو پېړو په غور، بالشتان او بست کښې حکمراني کوله او دَ سهاک له پښته وۀ.

" وائي چې امير کروړ ډېر غښتلے پهلوان ؤ. په يواځې ځان به دَ سلو جنګيالاتو سره جنګېدۀ. نو ځکه ئې کروړ بالۀ. په پښتو کښې هم تراوسه دغه کلمه ژوندۍ او دَ سخت او کلک په معنی کارول کيږي. دا پاچايواځې دا افتخار نۀ لري چې دَ نورو په شان ئې ملي ژبه له لاسه نۀ ده ايستلې. بلکې تر ټولو ئې دا لوئے افتخار دے چې پخپله دَ پښتو ژبې زبردست شاعر دے. او لکه دَ جنګ په ډګر کښې چې کروړ پهلوان ؤ. دَ خپلې ژبې دَ ادب په مېدان کښې هم ګړندے پهلوان دے. چې دَ پښتو دَ ادب تاريخ ئې پخپلو لوړو اشعارو څو سوه کاله دَ مخه او په ۱۰۰ هـ-ق کښې پښتو ژبه يوه پخوانۍ درنده او دَ يوه پاخۀ کلتور څښتنه معرفي کړه".[۲]

دَ امير کروړ بابا دَ ژوند او اثارو په اړه عبدالله سپنتګر ليکي:

"دَ زماني ناوړو پېښو دَ امير کروړ آثار له مېنځه وړي دي. دَ پښتو ادب ليکلے تاريخ يوائې دَ دۀ يوه وياړه په خپل غېږه کښې ساتلې ده. دا وياړنه دَ پښتو په معلومو اشعارو کښې تر ټولو پخواني شعر دے. او امير کروړ سوري هم دَ هم دې وياړنې په اساس دَ پښتو ژبې تر ټولو

قديم معلوم شاعر دے. او تر دۀ پخوا په پښتو ژبه کښې
بل شاعر تر اوسه نۀ دے پېژندل شوے. "۳

راځئ چې دَ بابا دَ ژوند کارنامو او حالاتو دَ لږ ډېر معلوماتو نه پس دَ دوئ دغه اکي يو کلام لوري ته ګامونه واخلو.

## "ويارنه"

زۀ يـم زمـرے پـر دې نـړۍ لـه مـا اتـل نسـته
پـه هنـدو سـندو پـر تخـار او پـر کابـل نسـته
بـــل پــــه زابـــــل نســــته
لـــــه مـــــا اتـــــل نســــته
غشـي دَ مـن مـې ځـي بريښـنا پـر ميـر ځمنـو بانـدې
پـه ژوبلـه يـو نـم يـر غـالم پـر تښـتېدونو بانـدې
پـــــه ماتېـــــدونو بانـــــدې
لـــــه مـــــا اتـــــل نســــته
زما دَ بر يو پر خول تاويږي هسک په نمنځ وپه ويارۍ
دَ اس لـه سوومې غرونـه رېږدي غرونـه کاندم لتـارۍ
کـــــړم ابوادونــــــه او جـــــارۍ
لـــــه مـــــا اتـــــل نســــته
زمـا دَ تـورې تـر شـپول لانـدې دے هـرات وجـروم
غـرج و باميـان و تخـار بـولي نـوم زمـا پـه ادوم
زۀ پېژنـــــــدو يـــــــم پــــــــه روم
لـــــه مـــــا اتـــــل نســــته

پـر مـرو زمـا غشـي لـوني ډاري دښـن راځخـه
دهريـوال رود پـر ځنـډو ځـم تښـتي پلـن راځخـه
رپـــــــــــي زړن راځخــــــــــــه
لــــــه مـــــا اتـــــل نســــته

خپلـــو وګـــړو لـــره لَـــوَر پيرزوئنـــه کـــوم
دوئ پـه ډاډ ينـه ښـۀ بـامم ښـۀ ئـې روزنـه کـوم
تـــــل ئــــې ودنـــــه کـــــوم
لــــــه مـــــا اتـــــل نســــته

پر لويـو غـرو مـې وينـا درومـي نۀ پـه ځنډو پـه تال
نـرۍ زمـا ده نـوم مـې بـولي يـو دريـځ سـتايوال
پـــه ورځـــو شـــپو مياشـــتو کـــال
لــــــه مـــــا اتـــــل نســــته[۴]

دَ امير کروړ بابا دغـه يو کلام دومره کوټلے، پوخ او شوخ دے. دغه کلام که هر څو په واحد متکلم صيغه کښې وئيلے شوے دے خو بيا هم دَ دغې نـه دَ قوميت او مقاميت ډيرې نخښـې ښـانې او دَ قـامي ناموس، غيـرت او حميت بلها رنګونه راڅاڅي. په سوونو کالـه وړاندې دَ امير کروړ بابا دَ قامي سياسي سوچ پوخوالے بيخي عجيبه ښکاري. او دَ دغې کلام په لور که مونږ پام کوو نو دَ کروړ بابا دانش او شاعرانه استعداد تـه مو پام ځي. دَ دې نه دا پوره اندازه کېدے شي چې بابا ډېر سپېځلے او غښتلے شاعر وو. پـه دې حقلـه دَ بايزيد روښان پوهنتون دَ پېغام تر سرخط لاندې دَ امير کروړ دَ ويـاړنې پـه موقع وئيلي شوي دي.

"دَ جهـان پهلـوان پـه "ويـاړنـه " کښـې اجنبي لغـات نۀ دي اسـتعمال شـوي. نـره پښـتو ده. وزن او بحـر ئـې خپـل، تشـبيهات ئـې سـاده او

طبيعي دي او مونږ ته د خپلو پلرو د ملي وياړنې او لوړ عزم درس راکوي. د امير کروړ د شعر او شاعرۍ څخه پوهېږو چې سوري کورنۍ او د دوئ شاهان د له يوۀ سره تول پښتانۀ او داسې پښتانۀ وو چې پښتو ئې ژبه وه. او پښتو ئې روزله. يۀ ملي قائد چې د خپلې ملي ژبې سره دومره علاقه ولري. چې د خپل ژبې شاعر وي. نو د نورو افرادو مينه هم د هماغې ژبې سره اټکلولے شي. لکه شيخ کته چې د تاريخِ سوري څخه نقل کوي: دې پهلوان هر کله شعرونه وئيل او په ۱۵۴ هجري کال د پوشنج په جنګونو کښې مړ سو او تر دۀ وروستو ئې زوئے امير ناثر ايوادونه ضبط کړل او د غور او سور او بست او زمين داور پر مځکو خاوند سو".[۵]

سر محقق معتمد شنوارے ليکي:

" دا شعر له هره حېثه د ستائينې وړ دے. خپل مخصوص اولسي رنګ او وزن لري. او په دومره اوږده شعر کښې يو پردے لغت نشته. په دې موجوده وخت کښې چې پښتنې تولنه د شعر او ادب له پلوه پوره رسېدلې ده. څوک به وکړے شي. دومره او يا تر دۀ لنډ شعر يواځې په پښتو الفاظو و وائي. دا کار ناممکن برېښي. هو! ځيني لنډ نثرونه په سوچه ژبه ليکل کېدے شي. د دې شعر نه معلومېږي چې د امير کروړ تر وخته پورې په پښتو ژبه د نورو ژبو تاثير نۀ وو لوېدلے. تر هغه وخته پورې پښتو يوه سوچه تولنه لرله. چې له امير نه نيولے تر فقيره پورې تول يو اولس او يو خلق وو. او په يوه ژبه به ګړېدل. نورو ژبو پکښې لار نۀ وه موندلې. د دې شعر نه چې د اولسي سندرو يۀ شاهکار دے. دا نتيجه اخلو چې د هغه وخت غوريان او سوريان داسې سوچه پښتانۀ وو چې حق ته لاد دوئ په ژبه باندې د نورو ژبو تاثر نۀ ؤ لوېدلے. او د دوي

ټولنه د نورو سره لانۀ وه مخلوط شوې. يـواځې پښـتني ټولنـه وه او دوئ يواځې پښتانۀ وو."[٦]

"زۀ فکر کووم چې د اميـر کـروړ پـه شعر کښـې ډېرو خبرو ځـائے شته او بايد ډېرې خبرې وربانديې وشي او هره کلمه او هر لفظه ئې وڅيـړل شي. تجزيـه او تفسير شي او را اوسپړودل شي او دا کـار بايد مختلف څيړونکي وکړي او يواځې د يوه يا دوه تنو په تحقيق او څيړنو قناعت ونۀ شي. کۀ دا کـار مـونږ وکړو دا بـه يـو لـوئے او ضروري کار مونږ سر ته رسولے وي."[٧]

دَ امير کروړ بابا دَ ويـاړنې پـه لړ کښـې دَ بيلا بيلو شـاعرانو لـه خوا دَ شعرونو پـه شـکل کښـې دَ خراجِ تحسين يـو څو نمونې وړاندې کوو او مخ پـه وړاندې ځو:

دوست ليکي:

دَ ښـــکارندوئي دَ اميـــر کـــروړ ژبـــه ده
دا دَ روښــــان او دَ رحمــــان ژبـــــه ده
دَ لويـــو لويـــو ننګيــــالو ژبـــــه ده
دَ خوشـحال خـان او باچـا خـان ژبـه ده
دَ لـــر او بـــر ټوټـــه پښـــتون دَ پـــاره
ملـــي وحـــدت تـــه ده درمـــان پښـــتو
چې پښـتو نۀ وي نـو پښـتون بـه څۀ وي
زمـــونږ هســـتي زمـــونږ جهـــان پښـــتو[٨]

نصر الله حافظ دَ اتلانو اتل تر سرخط لاندې ليکي:

نـن مـې دَ خيـال بـاتور وزر دَ غـور پـه غرونـو وهـي
هېـــواده دور ســـتا پـــه تېـــرو عظمتونـــو وهـــي
ځـي دَ منـد ېش پـه هغـو ډونـډو کنـډوالو ګرځـي
پـــه هغـــو ورانـــو ســـوزېدلو دېوالـــو ګرځـــي
هغـــه دَ ســـور دَ لـــوئې کهـــول دَ اتلانـــو اتـــل
هغـــه کـــرور هغـــه اميـــر دَ اميرانـــو اتـــل
غـوره سـتا غرونـو او رغونـو تـه سـلام دې زمـا
دَ اتلانـــو ســـيمې تـــا تـــه احتـــرام دې زمـــا[۹]

ډګر من رازقي نړيوال جهان پهلوان ته دعقيدت پېرزونې وړاندې کوي:

ويـاړي پـرې نسـلونه چـې دَ خلقـو قهرمـان وي
نوم ئې په تاريخ کښې همېشـه دَ لـوئې انسـان وي
مينـه چـې رښـتيا دَ خپلـې خـاورې سـره ولـري
تـل دَ خپلـواکۍ او پـت منـې ئـې نګهبـان وي
هر يو ميرڅمن بـه ئې لـه مخې نـه پـه تېښـته وي
څـوک چـې دَ حـق لار کښـې مـړنې او پهلـوان وي
پړق دَ تېـرو غشـو برېښـوي ئـې دَ دښـمن سترګې
هغـه چـې پـه تـوره او همـت مـردِ ميـدان وي[۱۰]

بيټ نيکهٔ (۳۰۰ هـ - ۴۴۰ هـ) چې اصل نوم ئې بيټڼ ؤ خو په تاريخ کښې دَ بيټ نيکه په نامه يادېږي، يو بزرګ انسان او نېک پاک سيرت لرونکې دروند پښتون ؤ. دَ دوي دَ کلام لاندېنۍ نمونه ګورو چې دَ هر ټکي نه ئې د قوميت رنګونه ځليږي. دغه لاندې مناجات که هر څو دَ الله تعالی په دربار کښې زاري او منت دې خو دَ خپل ذات او خپل ځان دَ پاره نهٔ دې. دَ قامي او اولسي سوچ پخه ترجماني لري چې مونږ ئې دَ قوميت يوه معتبره او اثرناکه حواله ګڼو:

## مناجات

لويه خدايه، لويه خدايه ستا په مينه په هر ځايه
غر ولاړ دے درناوي کښې تول ژوي په زارۍ کښې
دلته دي دَ غرو لمنې زمونږ کېږدۍ پکښې پلنې
داو ګړی دېر کړې خدايه
لويه خدايه، لويه خدايه

دلته لر زمونږ اور بل دے وور کورګے دے وور بور جل دے
مېنه ستا کښې مونږ ميشته يُو بل دَ چا په ملهٔ تلهٔ نهٔ يُو
هسک او زمکه نغښته ستا ده دَ مېرو وده له تا ده
دا پالنه ستا ده خدايه
لويه خدايه لويه خدايه[11]

ملک يار غرشين چې دَ شهاب الدين غوري همعصر ښکاري چې دَ هندو بادشاه پرتهوي راج خلاف ئې په نرائن (هندوستان) کښې دېر خونړے جنګ کړے دے. دهٔ به په خپلو مستو شعرونو دَ جنګ مېدان تود ساتلو. او ځوانان به ئې په دشمن يرغل ته راپارول. دَ دهٔ دَ "رجزيه نظم "دا نمونه وړاندې کوو چې دَ رزميه او حماسي رنګ سره سره دَ قوميت بشپړ رنګونه هم لري:

### رجز

ځښتن مو مل دے
اوس مو يرغل دے
هېواد دَ بل دے
غازيانو ګورئ
توري تېرې کړئ

دښـــمن مـــو پـــرې کـــړئ
منګُلـــې ســـرې کـــړئ
څـــۀ لـــه بـــه تښـــتو
څښـــتن مـــو مـــل دے

کـــه ټينـــګ کـــړو زړونـــه
پـــر بـــري يُونـــه
چـــې زمـــري يُونـــه
اســـلام راڅخـــه دے
څښـــتن مـــو مـــل دے

غازيـــانو راســـئ
ټـــول شـــاو خـــوا ســـئ
دَ شـــهاب پـــه مـــلا ســـئ
دښـــمن مـــو غـــوڅ کـــړئ
څښـــتن مـــو مـــل دے [۱۲]

يو خوا دَ دې نظم دَ ژبې سوچه والے، سادګي او رواني دَ کتو ده نو بل خوا دَ دې دننه فني خاصيتونه او فکري الوت دَ دې ارزښت او اهميت زياتوي. يو خوا دا دَ تاريخ دَ يو ډير اهم موړ او بل خوا دَ عظيم بادشاه شهاب الدين غوري دَ کارنامو او دَ قوم دَ اتحاد او اتفاق غمازي هم کوي.

لنډه دا چې دَ پښتو شاعري دَ ابتدا نه دَ قوميت، مقاميت، اولسيت او وطن دَ مينې نه برجقه ده. کله کله خو داسې هم ګمان کيږي چې دَ پښتو شاعر بغير دَ قوميت نه بې نمکه، پيکه او بې برکته دے. داسې ښکاري چې دَ قوم او وطن مينه دَ پښتون په خټه کښې اخښلې شوې ده. دَ دوئ نه پس که هر څو دَ روښاني مکتب په شاعرانو نېغ په نېغه دغه اثر نۀ ښکاري خو چې

کله مونږه دَ خوشحال خان بابا پېږۍ ته راځو نو په دې خبره خامخا مجبورېږو چې خوشحال هغه وړومبے شاعر دے چا چې دَ پښتون قوميت دَ نوي فکر بنډ بنا وکړه او دَ افغان به ننگ ئې توره وتړله. دَ ننگيالي خوشحال نه پس هم په دغه بنيادونو بيا دَ خدائي خدمتګار تحريک شاعرانو او تېره تېره امير حمزه خان شنواري يو داسې رنګين محل ساز کړو چې ټوله دنيا دَ پښتون تاريخ، تهذيب، تمدن او ثقافت دَ عظمت قائله او دَ خاصيتونو ثناخوانه شوه.

# حوالې

[۱] محمد هوتک بن داؤد، پټه خزانه، دَ پوهنې وزارت دَ دارلتالیف ریاست، دوهم چاپ، ۱۳۳۹هـ ش، ص ۳۰

[۲] دَ امیر کروړ یاد، دَ بایزید روښان پوهنتون پېغام، دَ افغانستان دَ علومو اکېډیمي، پښتو ټولنه، ۱۳۶۴هـ ق، ص ۲۹.

[۳] سپنتګر ،عبدالله، دَ امیر کروړ یاد، ص۵

[۴] محمد هوتک بن داؤد، پټه خزانه، ص ۳۴- ۳۷.

[۵] همدغه اثر، ص ۲۹ - ۳۰.

[۶] معتمد شنوارے، سر محقق، د امیر کروړ د ویاړنې تحلیل او تفسیر، مشموله ،دَ امیر کروړ یاد، ص ۱۲۷ - ۱۲۸.

[۷] همدغه اثر، ص ۱۳۳.

[۸] دوست، پښتو، مشموله د امیر کروړ یاد، ص ۲۸۰

[۹] حافظ، نصر الله، د اتلانو اتل ته، مشموله د امیر کروړ یاد، ص۲۸۱تا ۲۸۳

[۱۰] نړیوال، رازقي، ډګرمن، هم دغه اثر، ص ۲۸۷.

[۱۱] بیټ نیکهٔ، پښتو دولسم جماعت، KP ټېکسټ بک بورډ پېښور، کال نهٔ لري، ص ۱۳۵

[۱۲] ملکیار غر شین، پښتو دولسم جماعت، KP ټېکسټ بک بورډ پېښور،کال نهٔ لري، ص ۱۳۲.